د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر


بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾


چهارشنبه،9 صفر، ۱۴۴۶هـ | 2024/08/15م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/4


**مطبوعاتي اعلامیه**

**د زمري ۲۴مه؛ له ویاړه ډکه ورځ چې ثمره یې له لاسه وځي!**

د اسد ۲۴مه (د اګسټ ۱۵مه) د جمهوریت د پرځېدو او کابل ته د مجاهدینو د داخلېدو له دریېمې کلیزې سره برابره ده. دا ورځ له یوه اړه د اشغالګرو د ماتې او له بله اړخه د جمهوري نظام د پرځېدو په خاطر یوه تاریخي او مبارکه ورځ ګڼل کېږي. دا ورځ هغه فرصت و چې افغانستان پکې له مرکزي اسیا سره په وحدت کولی شول چې د خلافت په ځواکمن دولت بدل شي، خو له بده مرغه د تېرو دریېو کلونو په اوږدو کې غربي قدرتونو، د سیمې خاینو حکامو او نامطلوبو عناصرو هڅه وکړه چې حاکم نظام له دغې موخې منحرف کړي.

ځینو هغه وخت دغه بدلون «نصرت» وباله. څرنګه چې "نصر" په لغت کې "باراني اوبو" ته ویل کېږي چې ځمکه خړوبوي او ژوندۍ یې ساتي، د ټولې نړۍ د مسلمانانو هیله دا وه چې د افغانستان پر محوریت به د خلافت د تاسیس او د اسلام په حاکمیت سره "د باران د رحمت" شاهدان وي؛ د یوې شرعي اصطلاح په حیث بیا د هغه ځواکمن د ملاتړ او مرستې په معنا دی چې داسې ځواک او نفوذ په واک کې لري چې د اسلام حاکمیت تقویه کړي او حفاظت او ساتنه یې وکړي.

خو له بدغه مرغه تر نن ورځې د "نصرت" او "رحمت د باران" شواهد ونه لیدل شول، بلکې یوازې د "غلبې" یادونه کولی شو. د نصرت له حکمتونو او ښکلاوو یو دا دی چې د الله تعالی دین تمکین پیدا کوي، مسلمانان د رهبرۍ په چاره کې د ځمکې وارثان ګرځي او دولت د دین د اظهار او اعلاء کلمة الله لپاره جهاد کوي، فتح تر لاسه کېږي، سرحدونه ماتېږي، د مسلمانانو له وینو او مقدساتو دفاع کېږي او خلک جوپې جوپې اسلام یا دار الاسلام ته داخلېږي.

خو په تېرو دریېو کلونو کې فعلي حاکمیت د حکومتولۍ، اقتصاد، تعلیم او تربیې، ټولنې او بهرنې سیاست په برخو کې اسلام په بشپړ او هر اړخیز ډول نه دی پلی کړی، په پولو کې محبوس پاتې دی، جهاد یې معطل کړی دی او د ختیځ ترکستان، مرکزي اسیا، فلسطین او نورو اسلامي خاورو له مستضعفینو څخه یې دفاع نه ده کړې او عملاً هڅه کوي چې ځان په نړیوال سیکولر نظم کې ورګډ کړي. په دغو دریېو کلونو کې نه یوازې جوپې جوپې خلک په اسلام کې نه داخلېږي، بلکې جوپې جوپې او میلیونونه خلک زموږ له خاورو څخه غرب ته تېښته کوي. ایا دا همغه مجاهدین نه وو چې ناټو ته یې د احزاب د لښکر په څېر ماته ورکړه؟ خو نن وینو چې د دښمن په زړه کې ورځ په ورځ له مجاهد څخه وېره کمېږي. دا د غیر شرعي سیاست پایله ده. کله چې احزابو ماته وخوړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغوی سره سوله و نه کړه، له هغوی څخه یې د مرستو او په رسمیت پېژندلو غوښتنه و نه کړه، له کفارو سره نرم او له مسلمانانو او دعوتګرانو سره شدید نه شو، بلکې ویې فرمایل:

**«الآن نغزوهم ولا يغزونا؛ نحن نسير إليهم»** (صحيح البخاری)

**ژباړه:** *اوس موږ د جګړې لپاره په هغوی پسې ورځو، هغوی په موږ پسې د جګړې لپاره نه راځي، موږ د هغوی پر لور ور درومو.*

موږ پوهېږو چې د مجاهدینو په منځ کې داسې رهبران شته چې په زړه کې د اسلام تشویش لري او د خیر په نیت کې یې هیڅ شک نه شته، خو د اسلام د نه تطبیق او حمل له امله حتا تر ټولو مخلص زړونه هم زنګ نیسي او د خیر فرصت او توفیق ترې اخیستل کېږي. که څه هم داسې توجیهات مطرح کېږي چې ګواکې د دغو کارونو لپاره «ترتیبات او تیاري روان دي او له بیړې باید ډډه وشي»، خو درې کاله د اساسي کارونو، اسلام د بشپړ تطبیق او حمل لپاره لږ وخت نه دی!

څرنګه چې د دولتولۍ لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم - چې د مسلمانانو لپاره د دولتولۍ الګو ده - لومړی ګام له خلکو او د قدرت او نفوذ له څښتنانو څخه د شرعي بیعت اخیستل و؛ دویم ګام یې په اسلام کې د دولتولۍ د اساسي اصولو او سرو کرښو تعریف و، تر څو اسلامي دولت له نورو دولتونو ځانګړی شي. هغه صلی الله علیه وسلم په لومړي کال کې د "امت" مفهوم متبارز کړ، د دولتولۍ نظامونه یې پر پښو ودرول او په بهرني سیاست کې یې په څرګنده توګه بیان کړه چې د دولت موخه د دین اظهار او دغې موخې ته د رسېدو طریقه قتال دی. په همدې دلیل یې د دریېو کلونو په اوږدو کې د اسلامي دولت لښکر له خپلو پولو بهر څو سریو او غزاوو ته ولېږه او په دویم کال یې د بدر په غزا کې له ډېرو لږو نظامي امکاناتو سره قریش مشرکینو ته ماتې ورکړه. خو له بده مرغه چې په تېرو دریېو کلونو کې د دولتولۍ اساسي کرښې نه دي روښانه شوي او عملاً د حاکم نظام د ځینو رهبرانو هڅې د اسلام د تطبیق او خلکو د هدایت پر ځای د خلکو او دعوتګرانو پر ځپلو او د قدرت پر سر پر سیالۍ ورټولې شوې دي.

موږ خپلو مجاهدینو وروڼو ته یادونه کوو چې دین نصیحت دی. اوس هم فرصت له لاسه نه دی وتلی چې "غلبه" د الله تعالی پر نصرت بدله کړو، په دې شرط چې له الله تعالی سره میثاق د دولتولۍ اساس وګرځوو او د حق مومنانو صفات خپل کړو. موږ باور لرو چې د مجاهدینو په منځ کې ستر خیر شته او تقوا او اخلاص د هغوی په منځ کې څپې وهي. پر دغه اساس، پکار ده چې قدرت - چې د الله تعالی امانت دی - د اسلام د تطبیق او حمل لپاره وکارول شي. که اسلام تطبیق نه شي، نو مجاهدین او عام خلک به فاسد او متفرق شي. نو د قیامت په ورځ به څوک د جبار الله پر وړاندې د هغو کسانو مسولیت پر غاړه واخلي چې ان یوه ورځ یې له خلیفه او د اسلام له تطبیق پرته ژوند کړی وي؟

## د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر